# د ټکر شهیدان او د مولانا فضل محمود مخفي ورځ

## (د باچا خان ریسرچ سنټر خصوصي غونډه)

ډاکټر محمد زبېر حسرت

نۀ کلونه د غلام په غلامۍ کښې
نۀ ساعت د ازادۍ کۀ څنګدن وي

اتویشتمه مۍ د ټکر د شهیدانو ورځ ده او هم دغه تاریخ د ازادۍ د لوئے اتل مولانا فضل محمود مخفي د وفات تاریخ هم دے. هم په دغه بنیاد د مۍ په اتویشتمه کال دوه زره نهۀ د باچا خان مرکز په ریسرچ سنټر کښې د یوې خصوصي غونډې اهتمام شوے ؤ چې مشر مېلمه ئې ښاغلے محمد ایوب یوسفزے د پي ایف ۲۶ مردان د اې این پي جنرل سېکرټري ؤ او د نظامت چارې راقم ترسره کړې.

لۀ ټولو اول ښاغلي ځلان مومند د راغلیو مېلمنو مننه وکړه چې په دومره سخته ګرمۍ او داسې کړکېچنو حالاتو کښې د باچا خان مرکز ریسرچ سنټر ته راغلل او دا ننۍ خصوصي غونډه ئې په خپل درانۀ راتګ ښائسته او ګټوره کړه. ښاغلي ځلان مومند په دې موقع د ټکر د شهیدانو او د مولانا فضل محمود مخفي صاحب روح ته د مینې، احترام ډالۍ وړاندې کړې او زبېر حسرت ته ئې د پروګرام مخ په وړاندې بوتللو بلنه ورکړه.



حسرت د ټکر د شهیدانو دغه لویه واقعه او د پښتنو المیه د قصه خانۍ د واقعې سره تړلو نه پس د مشر عبدالخالق خلیق صاحب د نثري تاریخي دستاویزي کتاب "د ازادۍ جنګ" په حواله د ټکر د شهیدانو تذکره وکړه او هم په دغه سلسله کښې ئې د محترم عبدالاکبر خان اکبر نظم چې په اووۀ ورځني ((پښتون)) مرکز عالیه سردریاب یکم جولائي ۱۹۳۸ء کښې چاپ شوے ؤ او بل د محترم فضل رحیم ساقي د وردګې نظم چې په اووۀ ورځني ((پښتون)) مرکز عالیه سردریاب ۱۱ جون ۱۹۳۹ء کښې چاپ شوے ؤ واورول او له دې وروستو ئې ښاغلي محمد ایوب یوسفزي له بلنه ورکړه چې هغوي د ټکر (تخت بائي مردان) د قومي المیې په حواله د خپلو خیالاتو څرګندونه وکړي. ښاغلي مشر مېلمه محمد ایوب یوسفزي ووئیل چې دا خبره سمه ده چې د ټکر غم لړلې واقعه او دغه وینې وینې داستان ۲۳ اپرېل ۱۹۳۰ء د قصه خانۍ شهیدانو سره تړلې ده چې له دغې واقعې وروستو نورې ډېرې واقعې هم پېښې

شوې دي چې د پېرنګيانو له لاسه په تش لاسو خدائي خدمتګارانو د ظلم غرونه رانړول شوي دي.

د قصه خانۍ د خونړۍ پېښې نه پس په مۍ ۱۹۳۰ء کښې چې د ټکر ماسم خان (د ټکر د دلبر خان کاکا پلار)، سالار شمروز خان (د اې اين پي د مشر فېروز خان وکيل پلار)، ملک عبدالحميد، ملک خان باچا، پير شهزاده او پير ماسم ونيولي شو او دوي ئې مردان حوالات يا جېل ته بوتلل نو په سرکاري لارۍ کښې د سورېدو نه ئې انکار وکړو او وې وئيل چې مونږ به پياده تر مردان جېل خانې ځو. د ټکر کلي نور خلق هم ورسره روان شو چې تخت بائي ته راورسېدل نو د خلقو شمېر زرګونو ته ورسېدو. په ګوجرو ګړۍ کښې ورته بې شمېره ګوراګان سپايان ولاړ وو.

قېديان خو په يو چل جېل ته بوتللے شو خو خلق نۀ ستنېدل، مطالبه ئې وکړه چې قېديان دې را خلاص کړے شي نو هله به مونږ ستنېږو. اخر خلق ستنېدو ته جوړ شو خو تنازعه دا راوچته شوه چې اول دې پوليس لاړ شي کۀ اول دې اولس ستانۀ او خوارۀ شي. د مردان اسسټنټ کمشنر مسټر "هِلي"(۱) او اې ايس پي مسټر "مرفي" هم راورسېدل، مرفي پوليس ته د لاټي چارج حکم وکړۀ او په خپله هم له ډېرې غصې په اولس کښې په اس سور د خلقو په وهلو ټکولو کښې ډېر وړاندې لاړۀ چې دغلته دوو مومندانو ورونو سېد رحيم او سېد امين د اس نه راګوزار کړو او د ګاروشا سلطان پهلوان پرې په تماچه ډز وکړو. خدائي خدمتګارانو له اوبۀ ورکونکې د ګوجرګړۍ زنانه "سواتۍ ابۍ" چې د تاج الدين کاکا تېر وه، د مسټر مرفي سر له د اوبو ډک منګے راخلاص کړو او داسې ئې دغه ظالم پېرنګے په ځائے سوړ کړو. بيا مسټر "هِلي" پوځ راوبللو خو دغه وخت يوه زبردسته سېلۍ، ځول او طوفان راغلو چې تکه توره تيارۀ ئې جوړه کړه او چې ساعت پس څو رڼا کېده نو د خلقو هېڅ پته نۀ وه چې چرته لاړل. پېرنګيان پوهېدل چې دا ټوله قصه د ټکر نه شروع شوې ده، ځکه نو هغوي د ټکر د بې ګناه او تش لاسو پښتنو خدائي خدمتګارانو نه د بدل اخستو فېصله کړې وه. په ۲۸ مۍ ۱۹۳۰ء سحر وختي د ټکر ټول کلے محاصره کړے شۀ، ځائے په ځائے ئې مشين ګنونه ولګول او خلقو ته ئې ووې چې له کورونو بهر مۀ راوځئ. هم په دغه ورځ د ټکر کلي مشرانو د جلسې تابيا کړې وه چې د بهر خواو شا کليو نه ورله هم ډېر خلق راغلي وو. انګرېزانو دوي منع کړل چې جلسه مۀ کوئ خو دوي نۀ منع کېدل، خلقو دا حکم نۀ منلو، چې جلسه شروع شوه نو ګولۍ پرې وچلېدې او بې شمېره بې ګناه تش لاسي خدائي خدمتګاران چې د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې او نظريې پېروکار او علم بردار وو، پکښې شهيدان او زخميان شو. د ټکر شهيدانو شمېر اويا - دوه اويا بيانېږي او د يو نيم سل وګړيو نه پکښې زيات خلق ژوبل شوي وو. هم په دغه موقع د ملک ماسم خان حجره په اور وسوځولې شوه چې د خدائي خدمتګارو دفتر هم دغلته ؤ. شمروز خان او ماسم خان ونيولي شو او درې درې کاله بنديوان وساتلي شو. د پېرنګيانو د نورو چاپو په لړ کښې ميربازخان، سربلند خان بابا او ګل شرف خان جرنېل هم ونيولي شو. دوي سره د پاتۍ کلان همېش ګل بابا او د ټکر حاجي لال دين او غفران خان هم شپږ مياشتې په ريمانډ کښې وساتلي شو او اذيت ناکې سزاګانې ورکړې شوې.

له دغې واقعې وروسته، لږې ورځې پس په لوند خوړ کښې د غلام محمد لوند خوړ حجره هم وسېزلې شوه او جائداد او د وسلې لائسنسونه ئې ضبط کړے شو او بیا څۀ موده پس ورپسې د ایف آر کوهاټ د هاتي خېلو د شهیدانو خونړۍ واقعه وشوه.

د ښاغلي محمد ایوب یوسفزي د بیان نه وروستو دوي د حاضرینو د څنو سوالونو ځوابونه هم ورکړل او ورپسې زبېر حسرت په مولانا فضل محمود مخفي صاحب خپل تحقیقي کار د یوې مقالې "د مخفي لټون" په شکل کښې وړاندې کړو. دۀ ووئیل چې له ما وړاندې پرې ښاغلي فضل زمان شلمان د سخاکوټ تفصیلي تحقیقي کار کړے دے او د هغوي نثري اثار او د شاعرۍ مسوده ئې هم راپیدا کړې ده خو زما د مقالې نوعیت د هغوي نه بدل په دې دے چې ما "د مخفي په لټون" کښې هر هغه څۀ راغونډ کړي دي چې چا پرې څۀ لیکل کړي دي. دۀ وړاندې ووې چې مخفي صاحب د ازادۍ د تحریک اهم غړے او لوئے مبارز وۀ چې لوئے عالم، فاضل او پښتون دانشور ؤ او په ډېرو ژبو لکه انګرېزۍ، عربۍ، فارسۍ او هندۍ ئې عبور حاصل ؤ ځکه څۀ موده د انګرېزانو په نوکرۍ کښې هم پاتې شوے دے خو د یو قومي شاعر په حېث د هغوي سوچ او اپروچ ډېر قوي او د اوچتې پېمانې ؤ، شاعري ئې د مقصد او پېغام نه ډکه ده.

ښاغلي ځلان مومند ووئیل چې مولانا فضل محمود مخفي صاحب دومره لوئے مبارز عالم او فاضل بنیادم ؤ نو زۀ حېران یم چې هغه بیا پټ ولې پاتې شۀ، ځکه چې دے خو د باچا خان ملګرے ؤ او د ازادۍ په جنګ کښې ورسره په یو صف کښې ولاړ ؤ، د باچا خان د مدرسو جوړول او نورو اصلاحي کارونو سبب هم مخفي صاحب ؤ. مشتاق مجروح



یوسفزي ووئیل چې اوس مونږ په پښتون کښې د ماسټر عبدالکریم مضمون په مخفي صاحب چاپ کړے دے هغې کښې ئې لیکلي دي چې مخفي صاحب وروستو ذهني طور ناروغه ؤ، ضعیف شوے هم وۀ او په اخري عمر کښې ما په مدرسه کښې د تبرک په توګه ساتلے ؤ چې باچا خان راغے نو د مخفي صاحب په لیدو خوشحاله خو په حالت ئې ډېر خفه شو. باچا خان ته مخفي صاحب وئیل چې ما وظیفه شروع کړې ده، دا پېرنګیان هسې زمونږ له وطنه نۀ وځي بس یو څو چُفه نور پاتې دي تۀ ګوره چې زۀ ئې درله څنګه وباسم. باچا خان ورته وئیل چې هم دغې چُف او کُف خو پښتانۀ ځائے ته رسولي دي. ښاغلي ځلان ووې چې د نوم په شخصیت ډېر اثر وي چونکې د هغۀ تخلص "مخفي" ؤ او د مخفي معنٰي "پټ" ده ځکه نو هغه هم پټ پاتې شو. حسرت ووې ځکه خو ما د خپلې مقالې عنوان هم "د مخفي لټون" ایښے دے چې د دوي د شخصیت، علمیت، کاروزیار او شاعري د ورځې رڼا ته راشي.

په دې موقع ښاغلي سعدالله جان برق، نوشادعلي خان باتور، قاضي فرمان، مشتاق مجروح يوسفزے، نواز يوسفزے، زاهد خان، امجد شهزاد، سمندر يوسفزے، سيف الرحمان سيفي، احسان الله او ناصر خان هم موجود وو. ▪